# په سويډن کښي د پښتو ژبي د زده کوونکو

# د اووم ټولګي د پاره د پښتو ژبي د تدريس کتاب

# ۷

ترتيب کوونکئ : عبدالعلي رسولزاده په مالمو کي د پښتو ژبي ښوونکئ

# تر پیل د مخه څه خبري

لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده په سویډن کي د خارجیانو او مهاجرو کورنیو اولادونه د خپلي مورنۍ ژبي او کلتور د زده کړي او ساتني حق لري. د مورنۍ ژبي او کلتور د دغه زده کړي او ساتني د پاره سویډني مقاماتو په ښوونځیو کښي د نورو مضمونو په څنګ کښي د مورنۍ ژبي او کلتور تدریس هم شامل کړئ دئ چي نومرې یې د ښوونځي د نورو مضمونو په شان ارزش لري، ځکه یې نو د دغه تدریس تعلیمي نصاب او د نومرو ور کولو سیستم د ښوونځیو د نورو مضمونو په شان د ښوونځیو د وزارت د خوا څخه ترتیب کړئ دئ. وروسته تر دې نو بیا د اړونده مورنیو ژبو د ښوونکو له خوا د کار پلان جوړیږي چي دغه د کار پلان په دواړو ژبو یاني مورنۍ ژبه او سویډني ژبه لیکل کیږي.

د دغه کتاب مضمونونه په سویډن کي د پښتو ژبو زده کوونکو د اووم ټولګي د پاره د ښوونکو د کار د پلان سره برابر را ټول سوي دي.

پدې کتاب کي د بیولوژي او ځني نورو مضمونو په باره کي هم څه نا څه لیکل سوي دي، دا ځکه چي زموږ زده کوونکي باید وکولای سي چي د مورنۍ ژبي څخه و سویډني ته او د سویډني ژبي څخه و مورنۍ ژبي ته ترجمه و کړای سي. د دې کار د پاره باید زده کوونکي دغه لغاتونه په دواړو ژبو و پیژني.

دغه کتاب به د ازمویني په توګه د یو څه مودې د پاره تدریس سي او د دغه تدریس په جریان کښي به د ښاغلو ښوونکو، میندو، پلرو او زده کوونکو نظریې د قدر وړ و ګڼل سي.

د دې کتاب مضمونونه د افغانستان د اوسنیو، پخوانیو او ځني نورو کتابو څخه راټول سوي دي.

په درنښت


Abdul Ali Rasulzada
Sunnan vägen 271
216 17 Malmö
Tel: 040- 156753
alirasulzada@hotmail.com

# د اسلام پیغمبر

د اسلام د پیغمبر نوم حضرت محمد (صلی الله علیه و سلم) دئ، چي د سعودي عربستان د مکې شریفي په ښار کي زېږېدلئ دئ.
پلار یې عبدالله نومېدئ او د مور نوم بي بي امینه وو. پلار یې دده تر پیدا کېدو دمخه لا وفات کړئ وو.
د حضرت محمد (ص) د پیدایښت په وخت کي د مکې خلکو د خدای په یووالي عقیده نه درلوده او هر چا ځان ته د ډبرو (تیږو) څخه خدایان جوړ کړي وه او سجدې به یې ور ته کولې. په ټولنه کي بد کارونه ډېر وه، خلکو غلاوي کولې او لوڼي به یې ژوندئ ښخولې.
نو کله چي حضرت محمد (ص) ځوان سو د خلکو ددې بدو کارو څخه به یې بد راتله او هر وخت به یې د خلکو سره پدې هکله خبري کولې. کله چي پیغمبر سو نو خلکو ته به یې د خدای (جل جلاله) لاره ښودله او ډېر خلک یې سمي لاري ته راواړول. خلکو خپل تر منځو ورور ګلوي شروع کړه. حضرت محمد (ص) د درو شپېتو کالو په عمر وفات سو او زیارت یې په مدینه منوره کي دئ.

# ټوکه

د لړم څخه یو چا پوښتنه وکړه چي ولي په ژمي کي نه راوزي.
لړم ورته وویل چي "په اوړي کي مي څه قدر کیږي چي په ژمي کي هم د باندي راووزم".

# دروغجن اخر شرمیږي

د یوه سړي اس ورک شو، ډېر ور پسې و ګرځېد خو پیدا یې نه کړ، اخر د ځاریو (حیوانانو) پر یوه بازار ور برابر شو، که ګوري چې یو سړي څلور اسان (اسونه) د خرڅلاو د پاره درولي دي چې د ده اس هم پکښې دئ، دی ورغئ او خرڅوونکي ته یې وویل: "دغه اس زما دئ، د پرون راهیسي رانه ورک شوئ دئ."

خرڅوونکي وویل: "ته خطا وتلئ یې، دا زما پر خپل اوخور لوی شوئ دئ."

د اس خاوند ور وړاندي شو د اس پر دواړو سترګو یې یو ټوکر ورواچاوه او خرڅوونکي ته یې وویل:

" ښه که دا ستا اس وي، ته ووایه چې کومه سترګه یې ړنده ده."

خرڅوونکی: "کیڼه سترګه."

د اس خاوند: "درواغ وایې، کیڼه سترګه یې روغه رمټه ده."

خرڅوونکئ: "نه رښتیا پام مي نه وو، ښۍ سترګه یې ړنده ده."

د اس خاوند: "درواغ دي وویل، دواړي سترګي یې جوړي دي. که اس ستا پر اوخور لوی شوئ وای نو تا به یې ښۍ او کیڼه سترګه نه ړندوله."

خرڅونکي سترګي کښته واچولې او سړي اس ځیني بوتئ.

# د پښتو ژبي الفبې

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض
ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و ه ـه هـ ی ي ې ۍ ئ

# پاکوالئ

وګوره هلکه ته — فکر ورته وکه ته
ونې ځنګه پاکي دي — پاڼي يې ښکلي دي
ګلان ګور صفا دي ټول — ځومره خوشنما دي ټول
وګوره مرغۍ ښکلي — بريښي له پاکۍ ښکلي
ته هم د مرغو په شان — ګلانو تکو سرو په شان
پاک سوتره دي ساته ځان — يې به بيا هر چا ته ګران
پاک چي مخ بدن وي ستا — مور پلار به مين وي ستا

پاک هلک ډېر ښکلئ وي
هر چا ته منلئ وي

# کال

کله چي مځکه پر خپل شا و خوا ګرزي شپه او ورځ ځيني پيدا کيږي. يوه شپه او يوه ورځ چي سره يو ځای سي يو شواروز بلل کيږي. يو شواروز ځلور ويشت ساعته دئ. اوه شواروزه يوه اوونۍ (هفته) ده. کله چي مځکه د لمر پر شا و خوا ګرزي ددې حرکت ځخه کال پيدا کيږي.

يوکال ځلور فصلونه لري چي هر فصل يې درې مياشتي دئ او نومونه يې دادي لکه: پسرلی، دوبی (اوړی)، منی او ژمی.

یو کال دوولس میاشتي دئ. یو کال دو پنځوس اوونۍ (هفتې) دئ. یو کال ۳٦٥ ورځي او شپږ ساعته دئ. د څلورو کلو شپږ شپږ ساعته سره یو ځای کیږي او یو شواروز ځیني جوړیږي نو ځکه هر څلرم کال ۳٦٦ ورځي وي چي دغه کال د کبیسه کال په نامه یادیږي.

د کال میاشتي پښتو او عربي نومونه لري چي دلته لاندي لیکل سوي دي:

| پښتـــو | عـــربي |
|---|---|
| وری | حمل |
| غویی | ثور |
| غبرګولی | جوزا |
| چنګاښ | سرطان |
| زمری | اسد |
| وږی | سنبله |
| تله (ترازو) | میزان |
| لړم | عقرب |
| لیندۍ | قوس |
| مرغومی | جدي |
| سلواغه | دلو |
| کب (ماهی) | حوت |

د کال لومړۍ ورځ د وري د میاشتي لومړۍ ورځ ده چي و دغي ورځي ته نوروز ویل کیږي او د پسرلي فصل یا موسم هم ددغي ورځي څخه پیل کیږي چي د مارس د میاشتي د ۲۱ نېټې سره برابره ده.

# شعر

چي سپين او سره يې په کور کي تل وي
چـي نــه يـــې علم نــه يې عمل وي
بـنياد يـې نشتــه اخر بـــه خوار شي
بخت بـــه تــر کومــه ورسره مل وي

(عبدالقادر خان خټک)

# پسرلی

پسرلی د کال لومړی فصل (موسم) دئ. دا فصل د کال د لومړۍ ورځي څخه شروع کيږي او د حمل، ثور او جوزا په مياشتو کي دوام کوي. پدې فصل کي وني چي په ژمي کي بيدې (ويدې) سوي وي د خوبه را ويښيږي، نوي پاڼي راوړي، او مېوه لرونکي وني شګوفه (ګلان) کوي. کوچي مرغان بيرته خپلو کورو ته راځي. بزګران په خپلو ځمکو کي کار پيل کوي. ګلان غوړيږي، بوراګاني او بلبلان بيا پر ګلانو ګرزي. ټوله انسانان د نوي کال او نوي ژوند په فکر کښي کيږي. ميږي وري زېږوي او مالداران شيدې او مستې خوري او خرڅوي يې. ورځي اوږديږي. شاعران د نوو شعرونو د ويلو په فکر کي کيږي. دلته به تاسي د نمونې په ډول د پسرلي يو شعر ولولئ:

# د پسرلي ترانه

شکر شـکر دئ چي بيا پسرلی راغئ
هـــره‌خـــوا اورم شـــورونـــــه د بلبـلو
ســـاړه ولاړل پـــانـي وکـــړلې ګـــلونــــو
حـــاجت نـــه شتـــه د اوبـــو د تـــودولو
سنـــدلي کښـــي نـــه د ځـــان د تـــودولو
سمـــه و غـــر د ګل وطن ګلالی راغئ
شـــکر شـــکر دئ چي بيا پسرلی راغئ
لـــه تـــکليفه ســـوله خلاص خوار او غريب
ســـاړه ولاړه وخت د ګـــلو ســـو قـــــريب
هـــره خـــوا ښـــــکاري ګلان عجب عجب
نـــوئ بـــاد د خـــــوږو زړونو دئ طبيب
سيل د پاره روان ځوان او زلمی راغئ
شـــکر شـــکر دئ چي بيا پسرلی راغئ
بـــزګـــــر واستول غوايي دښت و صحرا ته
مـــالدارانـــو مـــيږي بـــــــوتللې بيديا ته
اوريځي ښکاري په اسمان کښي هري خوا ته
ليـــکي ليـــکي اوره درومـــي شـاوخـــوا ته
باغـــوان ګلوته په لاس کي رمبی راغئ
شکر شکر دئ چي بيـــا پسرلی راغئ

# ټوکـــه

یوه باغوان یوه هلک ته چي وني ته ختلئ وو، ناري کړې "چي په ونه کښي څه کوې؟"

هلک وویل: "ستا د وني یوه څانګه را لوېدلې وه، هغه مي واخیستله چي بیرته یې په ونه کښي ټینګه کړم."

## شعـر

په ښه خوی د سړي قدر قیـــمت کیږي
بد خصلت سړی یا دیو دئ یا پېری دئ
چي یې علم و هنر نه وي ځـني تـښته
بـې هنر سړی کـــه وګورې هیڅ شی دئ

(خوشال خان)

# اوړی

دا فصل د کال دوهم فصل دئ چي د سرطان، اسد او سنبلې په میاشتو کي دوام کوي. په اوړي کي هوا توده وي خلک په خپلو کارو لګیا وي. اوړی د کار او زیار موسم دئ. ټوله خلک خوشاله وي او په مځکو او

باغو کي مېلې کوي. بزګران غنم لو کوي او د ژمي د سختو ورو ځو او شپو دپاره توښه او اذوغه (خواړه) برابروي. پخوا چي نړۍ دومره پر مخ تګ نه وو کړئ نو خلکو په پسرلي، اوړي او مني کي په خپلو پټيو کي کار کاوه او د ژمي د سختو ورځو د پاره يې غلې او دانې ساتلې. مګر اوس چي د خلکو اقتصاد يوازي پر کښت او کرهڼه نه دئ ولاړ نو انسانان د کال په ټولو موسمونو کي په يو کار اخته وي.

په اوړي کي په افغانستان کي د شپې د خوا خلک يا په سرايو کي او يا پر بامو بيديږي. د ورځي د خوا يې په ډيرو ځايو کي تر مځکي لاندي خوني جوړي کړي وي او په هغو کي ژوند کوي چي هغو ته زېرخانې وايي.

## د وطن ترانه

زمــــوږ ګـران وطنــه            افغانستـــان وطـــنه
زموږ روښـــان وطـنه            اوســـې ودان وطـنه
موږ يو اولاد د پښتنو او ته جهان يې زموږ
د ژوند بوستان يې زموږ
مـــوږ دي اباد غواړو            تـــل دي ازاد غــواړو
خپــل اتـــحاد غواړو            په تا کښي ښاد غواړو
ستا په تازه هوا ښايسته زموږ ځوانان وطنه
افغـــانستــــان وطــنه

ته د غازیانــو کور یې ته د پـــوهانو کور یې
د ښو ځوانانو کور یې د افــغانانـــو کور یې
په تا کښې بــله ده ډېوه نن د عرفان وطنه
زمـــوږ ګـــران وطنـــــه

(درد مند)

# نا پوهه سړی

یوه سړي خپل کوم دوست ته خط لیکه. یو بل سړی یې څنګ ته ناست وو، څه چي به ده لیکل هغه به لوستل. ده په خپل کاغذ کي ولیکل چي ورور جانه! ډیري خبري مي په زړه کي دي چي درته ویې لیکم خو یو نا پوهه سړی مي څنګ ته ناست دئ چي څه زه لیکم دی یې لولي. پدې نه پوهیږي چي پردی کاغذ لوستل څومره لوی عیب دئ. دا سړی په قهر شو او ویې ویل: "ولي تهمت را باندي وایې ما خو ستا خط نه دئ لوستلئ."

ده ورته وویل: "چي نه دي دئ لوستلئ نو له څه پوه سوې چي ما په کاغذ کښې ستا په باره کښې څه و لیکل؟" هغه سړی و شرمېد سر یې له شرمه کښته واچاوه او له ځانه سره یې وعده وکړه چي بیا به د چا کاغذ ته نه ګوري.

# کلتور

کلتور هغه څه دي چې موږ ته د خپلو مشرانو له خوا څخه را پاته سوي دي لکه دين، ژبه، عادتونه، دود ( رسم او رواج ) او داسي نور.
دود لکه د کالو جوړول او د کالو اغوستل دي چې خلک څرنګه د خپل دود سره برابر کالي جوړ کړي او څه ډول يې واغوندي ، څه ډول واده وکړي او په واده کي کوم خواړه و خوړل سي او خلک څه ډول واده ته مېلمانه سي او داسي نور.

په نړۍ کي انسانان په ټولنو کي ژوند کوي، که يې کلتورونه سره و ګورو نو به يې کلتورو ډېر سره جلا او بېل وي. د مثال په توګه د سويډن په ټولنه کي خلک د واده مراسمو ته دومره ډېر اهميت نه ور کوي مګر په افغاني ټولنه کي بايد سړی د خپل توان په اندازه د واده مېلمستيا جوړه کړي. دا کار کوي که څه هم پيسې (اقتصادي قدرت) نه لري، پور کوي خو دغه کار کوي.

د پښتنو د کلتور يو ډېر د ستايني وړ کار د پښتنو جرګه ده:

# جـرګــه

د پښتنو تر منځ چې کومه بې نظمي يا ګډوډي پېښه سي نو د پښتنو مشران سره را ټولېږي، پر پېښه‌باندي غور کوي او بيا ددواړو خواوو تر منځ جوړه راولي. پښتانه خپل دوستان او هيوادوال دې ته نه پرېږدي چې په خپلو منځو کي جګړې او مشکلات مخ ته يوسي. ددې کار د پاره

ګاونډیان او دوستان د خپلو پیسو په لګښت میلمستیاوي جوړوي، پسونه حلالوي او ډېر خلک سره را ټولوي ځو ددواړو خواوو تر منځ سوله راولي. د جرګې فیصله دواړي دښمني خواوي مني او د جرګې د فیصلې څخه سر نه غړوي.

په جرګه کي د جرګې غړي په بې طرفه ډول فیصله کوي او د یوې خوا پلو نه نیسي. د پښتنو دغه دود د ډېر پخوا څخه رواج لري. دغه جرګو د پښتنو ډېر ډېر مشکلات حل کړي دي

د جرګې یو لوی مثال د احمد شاه بابا انتخابول دي د پاچا په توګه. کله چي په افغانستان یو سم حکومت نه وو او په هر ځای کي هر خان پاچا وو. نو د کندهار د ښار د شیر سرخ بابا په زیارت کي د پښتنو خانان او مشران سره را ټول سوه او یوه لویه جرګه یې جوړه کړه. دې جرګې ډېر وخت ونیوئ هر یوه په خپل نوبت خبري وکړې ځو په اخر کي صابر شا ملنګ د غنمو وږی را واخیست او د احمد شاه بابا په جوغه کي یې ور جګ کړ او د ټولو په خوښه احمد شاه بابا په پاچاهي وټاکل سو ځو ده وکولای سوای چي یوی لوی حکومت جوړ کړ.

بې جرګې نه به هیڅ کار په لاس رانه وړې
کـــه خبـــر ســـې د جـــرګې پـــه برکت

# مـنی

دا فصل د کال دریم فصل دئ چي د میزان، عقرب او قوس په میاشتو کي دوام کوي. په منی کي هوا مخ پر سړېدو وي. د مني ساړه بادونه چليږي یخني ورځ په ورځ زیاتیږي. مرغان تودو ځایو ته کوچ کوي، ونې پاڼي رژوي، ګلان مړاوي کیږي. د ونو ژیړي پاڼي د مځکي پر مخ لکه ژیړ فرش غوړېدلي وي. منی خلکو ته خبر ور کوي چي ژمی را روان دئ او د ژمي د پاره خواړه، تاوده کالي، د کورو د تودولو د پاره بوټي (لرګي)، سکاره، او نور د ضرورت وړ شیان برابر کړئ.

پدې موسم کي بزګران د بیا کرلو د پاره تخمونه راټولوي او ساتي یې څو یې په راتلونکي کال کي بیا په خپلو مځکو کي و کري.

# فعل

فعل یو کار کول ښکاره کوي لکه: ځي، راوړم، وینئ، ویې ویل، و مو خوړل، چیښلي مو دي، راغلي وه او داسي نور.

په لاندي جملو کي تر فعل لاندي خط لیکل سوئ دئ:

دوی جرمني ته ولاړه.

احمد شاه بابا د خوارانو سره مرسته کول.

تاسي دوی وینئ.

دې خپلي مور ته وویل.

احمد په چمن کي ځغلي.

لاندي جملې ولولئ، په هغو کي فعلونه پيدا کئ او په خپلو کتابچو کي يې و ليکئ:

تا خپل ښوونکي ته وويل.
دوی راغلل چي ډوډۍ و خوري.
دغه قلم خط نه ليکي.
مور به ولاړ سو.
د اسد مور مېلمستيا ته نه وه راغلې.

زده کوونکي دي پخپله پنځه جملې جوړې کړي چي فعلونه پکښې راغلي وي او تر هر فعل لاندي دي خط وليکي.

## ژمی

په ژمي هوا سړه وي په ځينو ځايو کي واوري اوريږي. ټوله مځکه په واوره پټه وي، واښه، ګلان، کښتونه او وني نه وي شنې. ټولي د ژمي په اوږده خوب بيدې وي. بزګران د ډيرو سړو او يخني په نسبت بې کاره وي. مرغان تودو ځايو ته کوچ کوي ځکه چي په يخو ځايو کي ددوی دپاره خواړه نه پيدا کيږي. چنګوښي، ماران او نوري خزندې هم د ژمي په اوږده خوب بيدې وي.

په يخو ځايو کي تازه مېوې نه پيدا کيږي. خلک د يخني په نسبت د پسو وچي غوښي چي تر ژمي د مخه يې لا وچي کړي وي خوري. ژمی د غريبو خلکو د پاره ډېر سخت وي.

په ژمي خلک په خپلو کورو کي سندلۍ، بخارۍ، منقلونه او د تودوخي نور شیان په کار اچوي.

## واوره

واوري واوري سپیني سپیني — ښکــلي ښکــلي او شیریني
راتـــه راولــه سیـــندونـــه — د خـــوږو اوبـــو جـــامونه
د ســـنــدرو ابـــشارونـــــه — د ســروزرو ډک رودونـــــه
بـــرېښنا ګاني ترې پیدا کړو — خـــپل کورونـــه پرې رڼا کړو
پـــرې روان کـــړو ماشینونه — پـــرې ودان کـــړو اولسونـــه
ټول وطن پرې ژر خوشال کړو
ځـــان د سیاله سره سیال کړو

(اجمل ختټک)

## ملا نصرالدین

یو سړی په یوه سارا کي د یوه ځای څخه و یوه بل ځای ته تئ چي د ملا نصرالدین سره مخامخ سو او د ملا نصرالدین څخه یې پوښتنه وکړه چي "څو ساعته وروسته به هغه بل کلي ته و رسېږم؟" ملا نصرالدین ورته وویل چي "لار دي وهه."

# زمری او موږک

یوه ورځ په یوه ځنګله کي د زمري په مخ کي یوه موږک و ځغستل. زمري موږک ونیو او غوښتل يې چي و يې خوري موږک زاری ورته پیل کړې چي "ما مه خوره، زه خو ډېر کوچنی حیوان یم په ما به دي څه و نه سي، یو وخت به دي په ښه در سم."

زمري موږک ته وویل: "زه چي د ځنګله تر ټولو حیواناتو زورور حیوان یم ته به نو ما ته څه مرسته راورسوې". خو اخر يې موږک ایله کړ.

یوه ورځ یوه ښکاري په ځنګله کي دام ایښئ دئ چي غوښتل يې یو حیوان پکښې و نیسي. ناپامه زمری د ښکاري په دام کي بند سو. هر څه کوښښ چي يې وکړ ځان يې خلاص نه کړ نو يې په نارو وهلو پیل وکړ. د زمري نارې چي موږک واورېدې نو سمدستي د مرستي د پاره حاضر سو او د دام پړی ( تناو ) يې څو ځایه پخپلو تېرو غاښو پرې کړ او زمری يې د ښکاري د دام څخه خلاص کړ.

# ټــوکه

یو وخت یوه لېوني د بل لېوني څخه پوښتنه وکړه چي "دا خلک ولي یوې خوا بلي خوا ته ځي ولي ټول خلک یوې خوا ته نه ځي؟"
هغه بل لېوني ورته وویل : "دا خو ښه دئ چي یوې خوا بلي خوا ته ځي، که ټول خلک یوې خوا ته ولاړ سي نو د مځکي هغه یو سر به دروند سي او مځکه به بل مخ چپه واوړي."

هغه سړي بیا پوښتنه ځني وکړه چي" څو ساعته وروسته به هغه بل کلي ته ورسیږم؟"

ملا ورته ویل: "لار دي وهه"

هغه سړي د ځانه سره فکر و کړ چي دا سړی لېونی دئ بیا به پوښتنه نه ځیني کوم نو یې خپله لار واخیستله. څو ګامه چي یې واخیسته ملا نصرالدین ور ږغ کړه: " دوه ساعته وروسته به هغه بل کلي ته و رسیږې."

هغه سړی را وګرزېد او ویې ویل: " ولي دي دمخه جواب را نه کړ؟"

ده جواب ور کړ:" ځکه چي ستا تګ مي نه وو لیدلئ. اوس چي مي ستا تګ ولیدئ او حساب مي وکړ نو مي درته وویل چي دوه ساعته وروسته به هغه کلي ته ورسیږې."

# د ډوډۍ خوړلو ادبونه

د ډوډۍ تر خوړلو د مخه لاسونه پرېولل او بيا درست کښېناستل.
د ډوډۍ تر شروع کولو د مخه بسم الله ويل او بيا له خپلي خوا څخه خورک کول.

د خورک په وخت کي د وړو وړو ګولو کول او ډوډۍ ښه ژوول.

په خورک کي چالاکي نه کول او نورو ته په ځير ځير نه کتل.

د ډوډۍ د ژوولو په وخت کي خوله ډېره نه خلاصول .

د ډوډۍ خوړلو په وخت کي د ټوخي يا ترچي په حال کي مخ بلي خوا ته اړول او خولې ته لاس نيول.
د ډوډۍ ترخوړلو وروسته لاسونه پاک پرېولل.

# کيسۍ

زما يو شی دئ چي سهار ولاړ سي او ماښام بيرته راسي د يوې تبۍ ځای ونيسي.
ووایاست څه شی دئ؟

# دا وبش دي له چا نه زده کړ

وايي چي يوه ورځ زمري، شرمښ او ګيدړه يو ځای په ښکار ووتل، يو خر، يوه هوسۍ او يوه سوی يې ښکار کړل. زمري شرمښ ته مخ راواړاوه چي دا ښکار ووېشه!

شرمښ وويل: خر يې ستاسي، هوسۍ يې زما او سوی يې د ګيدړي، دا سم تقسيم دئ.

ده چي دا وېش وکړ نو د زمري طبعت خراب سو، پر ده يې ور ټوپ کړه سترګي يې په پنجو ورځخه وايستې. ګيدړه پوه سوه چي زمري ته خو ډېر درد ورغلئ دئ.نو شرمښ ته لګيا سوه: "خدای دي خوار کړه داسي وېش څوک کوي لکه تا چي وکړ؟"

بيا زمري ګيدړي ته وويل چي: "ته يې ووېشه!"

هغې وويل: "ښه دا خو اسانه کار دئ. خر به سبايي وخورې، هوسۍ به بېګاه ته وساتې او په سوی به غاښونه تاوده کړې."

زمري وويل: "دا وېش دي له چا نه زده کړ؟" هغې وويل: "د شرمښ د سترګو."

# پلار ته لیک استول

زما مهربانه پلاره اسلام علیکم!

خدای دي وکړي چي جوړ او د ښه روغتیا درلوونکي اوسئ. دا ډېر وخت کیږي چي ستاسي احوال نه دئ راغلئ که مهرباني وکړئ او یو لیک راولېږئ ډېر به په خوشاله سو. نور مو نو وخت نه نیسم د خدای په امان.

احمد الله

(نېټه)

# بلـبل

بلبل چي د پسرلي په موسم کي زموږ د هیواد په هره خوا کي ناري وهي شاید لیدلئ به مو وي.

دغه مرغه تر ټولو مرغانو ښه رېږ کوي (سندري وایي) او اواز يې زړه وړونکئ دئ.

رنګ يې خړ (ایرن) دئ اواز يې تر ټولو مرغانو ښه دئ. نور مرغان د ورځي د ونو پر څانګو رېز کوي مګر بلبل پر سپوږمۍ مین دئ. د سپوږمۍ په شپه کي که سړی د دې مرغه اواز ته غوږ و نیسي په ټوله عمر کي به تر دغه ښه ږغ وا نه وري. بلبل خپله ځاله د ونو او وچو خاشو څخه په یوه پټ ځای کي جوړوي.

بلبل ببېله ږغېدو او رېز کولو څخه بل خیال نه لري. کله چي یې چیچیان د هګیو څخه راووزي نو بلبل د پلاروالي په وظیفه بوخت سي او د چیچیانو د پالني د پاره د خپلي ښځي سره مرسته کوي چي په دغه وخت کي د رېز کولو د پاره وخت نه لري.

بلبل د کوچنیو مرغانو د جملې څخه دئ چي د پسرلي په سر کي زموږ هیواد ته راځي او د دوبي په پای کي د تودو ملکو مخصوصو ځایو ته ځي.

## متلونه

خپله لاسه ګله لاسه.
یا خپل کور یا خپل ګور.
پور چي څنډنی سو، خوردنی سو.
پور دي پور، منت دي نور.
چي کرې هغه به رېبې.
د درواغو مزل لنډ دئ.
چي د بدو مل سي، د ټولو غل سي.

# د درواغو دعوه

د يوه سړي څخه د څلورو سوو روپيو يوه هميانۍ ورکه سوه، ډېره يې و لټوله خو پيدا يې نه کړه.

اعلان يې و کړ چي که دده هميانې چا پيدا کړه او را يې وړه، دوه سوه روپۍ به انعام ور کړي.

هميانې يوه غريب بزګر و مونده او ورته را يې وړه. کله چي يې انعام ځني و غوښته، سړي خوله پر را خلاصه کړه او دعوه يې پرې وکړه چي چي د ده په هميانې کي دوې مرغلري هم وې، "هغه څه شوې؟"

بزګر وويل: "ما خو مرغلري نه دي ليدلي، دغه هميانې چي مي څنګه موندلې ده، هغسي مي راوړې ده."

د هميانۍ خاوند وويل: "ځه ته د انعام وړ نه يې، ځکه تا مرغلري پټې کړي دي او غله ته انعام نه سي ور کول کېدلای."

بزګر پوه شو چي سړي دوو سوو روپيو ته خبره جوړه کړې ده او پدې چل را نه پيسې خوري، نو ژر قاضي ته ولاړ.

قاضي د هميانۍ څښتن را وغوښت او ور ته ويې ويل: "ته په څه وايې چي ستا په هميانې کښې دوې مرغلري هم وې؟"

سړي وويل: "هو قاضي صاحب دوې سوچه مرغلري هم په کې وې، هغه دي راکړي، چي انعام ور کړم."

قاضي بزګر ته مخ ور واړاوه او ويې ويل: "هلکه پدې همياني کي دوې مرغلري پرتې وې؟"

هغه وويل: "قاضي صاحب زه قسم خورم چي تر ځلور سوه روپيو پرته نور هيڅ شی هم نه وو."

قاضي د هميانۍ ښښتن ته وويل: "ته وايې چي مرغلري پکښې وې او دی قسم خوري چي نه وې پکښې. نو معلومه سوه چي ستا همياني دا نه ده. دا د کوم بل چا څخه لوېدلې ده، دا دبزګر سوه او چي ستا همياني څه وخت پيدا سوه نو در و به سپارل سي."

# حاجي ميرويس خان نيکه

په ۱۱۱۹ هجري قمري کښې د افغانستان ځني ځايونه د ايران د صفوي دولت په لاس کي وه. ددې دولت مشر په کندهار کښې د ګورګين په نامه يادېدئ.

ګورګين پر افغانانو ډېر ظلمونه کول. د ده د ډېر ظلمه څخه پښتانه ډېر په تنګ سوي وه. نو پدغه وخت کي د پښتنو مشران سره راټول سوه او يو لوی مجلس يې جوړ کړ. هغه وو چي په ټولو يې حاجي ميرويس خان د قوم په مشري و ټاکه.



حاجي میرویس خان د پښتنو سره لاس یو کړ، په اول کي یې ګورګین ته نصیحت وکړ خو هغه ونه مانه. ځکه یې د هغه سره جنګ پیل کړ. پدغه جنګ کي ګورګین ووژل سو او پښتانه د پردیو د لاسه خلاص سول.

کله چي پښتنو د دښمن د لاسه خپله ازادي واخیسته نو یې د میرویس خان څخه غوښتنه وکړه چي د پاچاهۍ چاري پر غاړه واخلي. حاجي میروس

خان و نه منله. څو په اخر کي يې د قوم مشري قبوله کړه.

حاجي ميرويس خان په ختېه( قوم ) هوتک او د ښالم خان زوی وو چي په ۱۱۲۷ هجري کال کي وفات سو، قبر يې د کندهار د ښار په کوکران کي پروت دئ.

# کار او طبيعت

کــه مېړی دئ که انسان دئ
لــه زحمت يې جوړ جهان دئ
اوريــځي خـړي وي که توري
کار و بار يې ښه بــاران دئ
لمر، سپوږمۍ په پلوشو کي
د نــړۍ ســاز و ســامان دئ
د بـزګـــر د کار لـــه فيضه
رنــګينه مــو دسترخوان دئ
شپــانـــه مېږي بيايي څړ ته
پـــه رمـــې پـــسې روان دئ
د مـــاليـــار د يوم په څوکه
ښـــکلئ شـــوئ ګلستان دئ
کـه مـوږ کښينو لاس تر زنه
پـــه سکون کي مو تاوان دئ
ای نـــژنــده لاس په کار شه
د کـــارګـــرو لـــوړ ښان دئ

# توره موچۍ او چرچرکه

يوې خوارکۍ موچۍ په يوه باغ کښي ګبين جوړ کړئ وو. هيڅ ارام يې نه وو. چي سهار به سو نو به په شنو باغو او ګلانو کي ګرزېده او دهغو څخه

به يې خوږه شيره را غونډوله او په خپل ګبين کي به يې ذخيره کوله. په لږ ورځو کښي يې خپل کندو د شاتو ډک کړ او د ژمي له غمه يې ځان خلاص کړ.

پدغه باغ کښي يوه شورناکه چرچرکه هم اوسېده، همېشه به يې سندري ويلې او ژوند به يې په خوشالي تېراوه او دسبا ورځي غم ور سره نه وو. څه چي به يې په لاس ورتله هغه ګړی به يې خوړل. کله چي د ګرمۍ ورځي تيري سوې ژمی او يخني راغله. د ګرزېدو او خورک پيدا کولو لاري بندي سوې. هغه موچۍ چي اوړی او پسرلی يې په زحمت تېر کړي وه او پوره ذخيره يې ټوله کړې وه خپل ګبين ته به ننوتله او هلته به ارامه کښېناسته او د اوړي د کړاو فايده يې خوړله.

يخو بادو او واورو شروع وکړه هوا بدله سوه مځکه په واورو پټه سوه او سخت ژمی پيل سو. کله چي چر چرکي وليده چي هري خوا ته لاري بندي دي نو دې موچۍ ته راغله او د سختي يخني او لوږي څخه يې ورته شکايت و کړاو مرسته يې څني وغوښتل. مچۍ په جواب کي ورته وويل: "ما ټول اوړی او پسرلی کوښښ کړئ دئ او خوراکه مي ټوله کړې ده. ناپوهي! ته خو هغه يې چي د سبا فکر در سره نه وواو غزلي به دي ويلې او خوشالۍ به دي کولې. هيڅ فکر دي نه کاوه چي يوه ورځ به داسي راسي چي نه به سړی کار کولای سي او نه به څوک مرسته ور سره کولای سي."

چرچرکي د موچۍ خبري واورېدې او ډېره پښېماني يې وکړه او ويې ژړل چي ولي مي د کار په وخت کي بې پروايي کوله چي اوس داسي محتاج او په بد حال يم.

# مچ او غنې

غنې يو داسي حيوان دئ چي اته پښې لري. پښې يې اوږدې دي او د انسان د ګوتو په شان بندونه لري. که د غنې و ټول بدن ته غور وکړو ټول بدن يې بندونه لري.
غنې يو داسي حيوان دئ چي د خپل ځان څخه د نريو تارو په شان نارې (لاړې) را باسي او د ښکار کولو د پاره يو جال ځني جوړوي. د دغه جال د جوړولو په وخت کي پر دغو نريو تارو باندي ځي او راځي. کله چي يې دغه جال جوړ کړ په يوه تياره کونج کي پټه کښيني چي که مچ او يا کومه بله حشره راسي او دا جال ته ځان ور نژدې کړي نو سمدستي يې پښې په هغه جال کي بندي سي او جال و ښوروي. کله چي جال و ښوري نو دا حمله پر وکړي. غنې يو داسي کوچنی حيوان دئ چي د مچانو او نورو ضرر رسونکي حشروويني زبېښي. ددې مانا دا ده چي غنې زموږ سره مرسته کوي چي د ضرر رسونکو حشرو د ضرره څخه مو خلاص کړي چي پدې حساب نو غنې زموږ د پاره ګټوره ده.

دا يوه مشهوره خبره ده چي کله چي حضرت محمد (ص) د خپلو دښمنانو څخه په عذاب سو نو راغئ په يوه غار کي پټ سو. پدغه وخت کي غنې راغله د هغه غار پر شا و خوا يې خپله ځاله جوړه کړه او کوتره راغله هلته يې ځاله جوړه کړه او هګۍ يې واچولې. کله چي دښمنان راغله نو هغو فکر و نه کړ چي دلته به يو انسان پټ وي نو د دې ځای څخه ولاړه. د دې سببه زموږ د خلکو په منځ کي غنې او کوتره ډېر د قدر وړ حيوانات دي.

# کیسه

یوه وخت په کوم هیواد کي په لاټرۍ کي د یوه ډېر مسکین بزګر پر نوم د لاټرۍ لوړترینه جایزه را وتلې وه. د لاټرۍ کار کوونکو فکر وکړ چي که بزګر د دومره ډېرو پیسو د ګټلو څخه خبر سو نو یو دم به یې زړه و درېږي، هغه وو چي تر خبرېدو د مخه یې یو ډاکتر ور و لېږه چي د غریب سړي سره خبري وکړي.

ډاکتر د بزګر څخه پوښتنه وکړه: "که د لاټرۍ په جایزه کي تاته د لاټرۍ هغه ممتازه جایزه راووزي څه به په وکړې؟"

بزګر ورته وویل: " نیمی به یې تاته در کړم." ډاکتر چي دا خبره واورېده نو په خپله یې زړه ودرېد او مړ سو.

# شیدې خرڅوونکۍ

یو سړی چي د یوه شیدې خرڅوونکي څخه په عذاب سوئ وو ځکه چي شیدو ته به یې ډېري اوبه ور اچولې. یوه ورځ یې د یوه لوښي پر ځای دوه لوښي ور وړه. شیدې خرڅوونکي پوښتنه ځني وکړه چي هره ورځ دي یو لوښی شیدې وړې نن لکه چي دوه لوښي غواړې؟
رانیوونکي ور ته وویل: دوه لوښي مي د دې د پاره در ته راوړي دي چي په یوه کي شیدې را واچوې او په دا بل کي اوبه را واچوې.

# سړی توب

د مـرغانـو د ویــــــنا دا معلومیږي
چي خبرو باندي ثوک نـه سړی کیږي
سړی نه دئ چي یې کار د سړو نه وي
پــه خبرو که هر ثومره ښــه پوهیږي

(الفت)

# د اسلام پنځه بناوي

اسلام پنځه بناوي لري چي هر مسلمان ورباندي ایمان لري او په رښتیا سره یې پر ځای کوي. د اسلام پنځه بناوي لکه طیبه (پاکه) کلمه یا د شهادت کلمه، لمونځ ، روژه ، زکات او حج.

## ۱ ـ طیبه (پاکه) کلمه:

لا اله الا الله محمد رسول الله.

مانا یې دا ده چي: بل خدای نسته بیله دغه خدایه (ج) ثخه محمد (ص) یې رسول دئ.

## ـ د شهادت کلمه :

اشهدالا اله الا الله و اشهد ان محمد عبده و رسوله
مانا يې دا ده چي : شاهد يم او باور لرم چي بېله پاک خدای څخه کوم بل خدای نسته او محمد (ص) د خدای بنده او رسول دئ.

## ۲ ـ لمونځ :

لمونځ چي د مسلمانۍ د پنځو بناوو څخه يوه بنا ده په يوه شپه او ورځ کي پر هر مسلمان باندي پنځه واري فرض دئ. لمونځ د الله اکبر په ويلو شروع او د السلام عليکم و رحمت الله په ويلو سره پای ته رسيږي.

## ۳ ـ روژه :

روژه هم د مسلمانۍ د بناوو څخه يوه بنا ده چي هر بالغ او جوړ (چي نا روغه نه وي) مسلمان يې په کال کي يوه مياشت نيسي. روژه هره ورځ د لمر تر راختو د مخه سړی نيت او شروع کوي او تر لمر لوېدو وروسته يې ختم کوي. دا پدې مانا چي پدغه وخت کي څوک څه نه خوري او نه يې چيښي.

## ٤ـ زكات:

زكات هم د مسلمانئ د بناوو څخه يوه بنا ده چي پر شته من (خان) مسلمان باندي فرض دئ چي د خپلو شتوو، ګټو او حاصلاتو څخه و خوارانو او غريبانو ته يوه معلومه اندازه پيسې يا غنم، اوربشي، جواري يا داسي نور شيان ور کي.

## ٥ـ حج:

حج هم د مسلمانئ د پنځو بناوو څخه يوه بنا ده چي هر مسلمان په ژوند کي يو وار د حج پر وخت مکې شريفي ته سفر و کړي پداسي حال کي چي د حج د سفر مصرف او د اولاد نفقه (خوراکه) به لري.

حج د کعبې شريفي طواف (پر کعبه شريفه را ګرزېدل)، د صفا او مروه د غرو تر منځ اوه واره تلل او را تلل، د لوی اختر په شپه د عرفات په ميدان کي حاضرېدل او دمدينې شريف زيارت کول دي چي هلته د حضرت محمد (ص) زيارت دئ.

# تاک

د انګورو بوټي ته تاک وايي. تاک مورې ته انګور را کوي. انګور چي پاخه نه وي هغو ته غوره وايي. د غورې څخه د غورې اوبه باسي. انګور چي پاخه سي نو يوه ښه مېوه ترې جوړه سي او خلک يې خوري. او ځيني انګور بيا وچوي او د هغو څخه د ژمي د پاره وچه مېوه جوړوي.

انګور ډېر ډولونه لري لکه کشمش، حسيني، خليلي، صاحبي، ايته او داسي نور.

د انګورو اوبه په لويو لويو لوښو کښي ايشوي او دوښا ور ځخه جوړوي. د تاک ښاخونه ډېر اوږديږي او په ژمي کي چي تاکان بيده (ويده) وي دغه اوږده ښاخونه يې ځني پرې کوي، که يې پرې نه کړي بيا تاک ښه حاصل نه ور کوي.

## ناروغه

يو سړی ډاکتر ته ورغئ او ورته ويې ويل چي"همېش نارغه يم، يوه داسي دوا راکړه چي د هر مرض علاج په کيږي او مدام را ځخه وي."

ډاکتر ورته وويل: "خورک په اندازه کوه او پياده ګرزه."

## د غريبانو حقوق

موږ وينو چي د دنيا په ژوند کي ټول انسانان يو شانته ژوند نه لري، ځوک شتهمن او خانان دي، ځوک بيا څه نه لري او غريبان وي. نو د انساني ژوند او اسلام د پاک شريعت له مخي د هغو انسانانو وظيفه ده چي د هغو انسانانو سره مرسته وکړي کوم چي غريبان، عاجزه او اړ دي.

په قران شریف او د پیغمبر په احادثو کي چي زکات ، عشر (لسمه)، د فطر صدقه، کفارې او داسي نوري صدقې راغلي دي دا ټوله د غریبانو حقونه دي چي شته من او خانان خلک به یې و خوارانو او غریبانو ته ور کوي.

په اروپایي هیوادو کي د دې د پاره چي د خوارانو او بې کاره خلکو سره مرسته وسي کار کوونکي ، سوداګران، د فابریکو څښتنان او نور هر څوک چي عایدات لري د هغو عایداتو څخه یې دولت یوه معلومه اندازه مالیات اخلي چي بیا پخپله د هغه هیواد دولت د مالیات د پیسو څخه و خوارو او بې کارو خلکو ته د میاشتي یوه اندازه پیسې د مرستي په شان ور کوي.

# موږکان او پیشي

په یوه کور کي یوه ډېره زوروره پیشي اوسېده چي د هغه کور ټول موږکان ور څخه ډارېدل. هر کله چي به کوم موږک له خپله غاره څخه راووتئ پیشي به ژر ور ټوپ کړه او موږک به یې و نیوئ. د کور ټول موږکان د پیشو د دې ظلمه څخه ډېر په تنګ وه.
یوه ورځ د کور ټول موږکان سره راټول سوه او یو لوی مجلس یې جوړ کړ چي د پیشو د دې ظلم څخه به ځانونه په څه ډول خلاص کړي. په مجلس کي یوه وړوکي موږک وویل چي "که موږ یوه زنګوله پیدا کړو او د پیشو په غاړه کي یې ورواچوو نو کله چي پیشي راووزي موږ به د

زنګولې ړغ اورو نو به د غارو څخه نه راوزو". په مجلس کې لوی موږک وویل چې "دغه زنګوله به څوک د پیشو و غاړې ته ور واچوي"؟ د دې خبرې جواب ته هیڅوک حاضر نه سول او ټول موږکان د ډیرې ویرې څخه ربړېدل.

په پای کې لوی موږک وویل: "داسې مشوره چې د عملي کېدو وړ نه وي بې ارزیښه ده او ببله دې چې زموږ وخت را ضایع کې بله ګټه نه لري."

## و بیده زوی ته

د زړګي سـر یې زمـا | د ژونـد ثـمر یې زما
نـور الـبصر یـې زما | شیـرین پـسر یې زما

هلـه پـاڅېـږه زویه!
ژر پـورتـه کېږه زویه!

زویـکه لـمر خـتلئ | وطن یـې ټـول نیولئ
حال د ویـدني تـللئ | وخت د ویښتوب راغلئ

بـلبلان بـیا چغیږي
همزولي ستا مسـیږي

هر څوک کارونـه کوي | خپل روزګارونه کـوي
ښـه خـدمتونـه کوي | هر لـور سیلونـه کوي

مکتب تــه ځي هــلکان
د وطـــن نـــوي ګـــلان

ته هم را پورته ســـه ژر          ځو بـــه بـــيده يــې ابتر
ســر تـــه راغلئ دئ لمر          يــو لــږ څه ځان کړه خبر

تــر ځو يې پروت بېکاره
زويـــه د خـــدای د پاره

و تـــاتـــه پـــــاته وطن          په خوږ يې اوسه خوږمن
خوب په کار نه راځي نن          پـــرېږده ګدلـــــه بړستن

و ســم ميـــدان ته ووزه
نـــوي جهـــان تـــه ووزه

د پښتـــون پـــت و ساته          د پـــلار غـــيرت و ساته
اســـلام عظمت و ســـاته          شـــان او شوکت و ساته

ورک کړه بې ځايه چرتونه
د ســـرې غـــرمې خوبونه

(بېنوا)

# مساوات په اسلام کي

مساوات مانا برابري. د اسلام په دين کي ټول انسانان د هر قوم، هر نژاد، هر ځای او هر رنګه چي وي په انساني حقونو کي يو د بله سره برابر دي.

د دې خبري د اثبات د پاره به دلته دغه يوه لنډه کيسه تاسي ته وړاندي سي.

په عربو کي د مخزون د قبيلې يوې ښځي يوه غاړکۍ غلا کړه. د پيغمبر (ص) ياران او اصحاب په خبر سوه. و يې ويل چي محمد (ص) هغې ته جزا ور کوي. يو شمېر نورو ويل چي دا ښځه د مخزون د قبيلې او د قريشو د لويانو څخه ده. دا قبيله ډېره محترمه ده، و به يې بخښي.

څو تنو نورو بيا ويل: چي مسلمانان د خدای (ج) په نظر کي سره برابر دي. هر مسلمان نر وي که ښځه، که څه هم د مخزون د قبيلې څخه وي او غلا وکړي د قران کريم په حکم جزاويني.

ځينو ويل: که دا ښځه جزا وويني د مخزوم د قبيلې د پاره به لويه رسوايي او لوی شرم وي. يوه چاره و سنجوئ چي و بخښله سي.

د هغو د جملې څخه څو تنو وويل: محمد (ص) قريش دئ او د مخزوم قبيله د هغه خپلوان دي نو څرنګه به حاضر سي چي خپله کورنۍ او خپلوان داسي رسوا کړي.

نورو بيا ويل: که محمد (ص) دا د خپلي کورنۍ له پاره و بخښي دا به هم رسوايي وي. مسلمانان د خدای په وړاندي سره برابر دي. هر غل بايد جزا وويني که څه هم د محمد (ص) د کورنۍ څخه وي. تر ډيرو خبرو وروسته يې يو اصحابي چي (اسامه) نومېدئ پيغمبر (ص) ته واستاوه چي دا ښځه و بخښي.

اسامه وويل: "چي پيغمبر(ص) ته ورغلم او موضوع مي ورته وويل." رسول الله (ص) وويل: "چي هغه خلک چي تر تاسي د مخه يې ژوند کاوه له دې سببه هلاک سوه چي شريف او معتبر کسان به يې د جزا ور کولو څخه بخښل او يو کمزورئ او بې توانه سړي ته به يې جزا ور کول. په خدای مي دي قسم وي چي که زما لور فاطمه هم غلا وکړي جزا به ورکړم."

کله چي اسامه د پيغمبر(ص) دا خبري خلکو ته وويلې، ټولو پر محمد باندي درود ووايه.

## د نيکه وينا اولاد ته

ای زمـــا کـمکيه زويه          زمـــا ګـــلاليـــه زويه
زمـــا زلـــميه زويه          زمـــا تـــوريـــاليه زويه
زه نـــصيحت کــــومه
تـــاتـــه وصيـــت کومه
مـــا هـــم ځواني درلوده          هـــــم مي خاني درلوده
هـــم مـــي هستي درلوده          هـــم مـــي مستي درلوده
هـــر طـــرف کـــار و زما
هر لـــور نـــاتار و زما

نـــن د هیخ کار نــه یم　　د هیــخ روزګار نـــه یم
مخ پـــه بـــلغار نه یم　　د ښـــه ګفتـــــار نه یم
بنـــدي د ګـــــور یمه
د حــق پـــر لـــور یمه
زه چي ژونـــدی وم زویه　　خو شین زمـــری وم زویه
ښــه ننــګیالی وم زویه　　هـــم جنګیـــالی وم زویه
سیالان لــــه ما شرمېده
دښمـــن لـــه ما ببرېده
وطـــن مــــي دئ ساتلئ　　تـــاتـــــه مي دئ روزلئ
اوس مي په لاس در کړئ　　پـــر تـــا مي دئ سپارلئ
نـــو یـــې خدمت کوه تل
ښـــې حفاظت کـــوه تل
دا د وطـــن ژیــــږ ګلان　　دا د وطـــــن ارغـــوان
دا د وطـــن سپین میدان　　دا د وطـــن شیـــنه زمریان
ټـــولـــه دي تـــاته پاته
دښمـــن دئ شـــاو خوا ته
دښمـــن کیـــنې کـــوینه　　مـــکر و حیـــلې کوینه
ګـــاهـــي پلمـــې کوینه　　بـــدي نخـــرې کوینه
وارخطـــا نـــه کې زویه
ځـــان تـــر شا نه کې زویه
مـــخ پـــر سره اور ور ځه　　لکـــه خـــونـــخور ور ځه
د ننـــګ پـــر لـــور ورځه　　بـــرمنډ ســــــر تور ورځه
چـــي مـــخ پر کور نه کې
پـــــاتــــــه پېغور نه کې
(مولوي صالح محمد)

# مېرمن ملاله

د دوشنبې په ورځ د برات د مياشتي پر اوولسمه په ۱۲۹۷ هجري کال چي پښتنو زلميانو، مېړو او مېرمنو د خپل وطن د ساتني په نيت سرونه پر ميدان ايښي وه او د ميوند ډگر ته د قربانۍ د پاره د انگرېز د تيري کونکي لښکر په مقابل کي حاضر سوي وه.... ټاکنده غرمه وه، غازيان تږي او ستړي ستومانه وه، د ميوند پر دښت هيڅ اوبه هم نه وې، نژدې وو چي د پښتنو لښکر د تندي څخه ماته و کړي په داسي حال کي چي د پښتنو بيرغچي هم سخت زخمي او بيرغ يې له لاسه ولوېد. يوه پښتنه پېغله نجلۍ چي تازه يې د ژوند د اوولسم پسرلي گلونه بوی کړي وه راغله او د پښتنو ملي بيرغ يې په سرو منگلو واخيست نارې يې کړې:

خال به د يار له وينو کښېږدم
چي شينکي باغ کي گلگلاب و شرموينه
که په ميوند کي شهيد نه شوې
خدای ږو لاليه بې ننگۍ ته دې ساتينه

ددې پېغلي ږغ لکه يو اسماني ږغ وو چي د پښتنو زلميانو ويني يې په جوش راوستې، دښمن ته يې ماته ور کړه. د دې پېغلي نوم د افغانستان په تاريخ کي په زرين خط ليکل سوئ دئ.

# باغوان

یوه سړي یو باغ درلود. دا باغ یې په ډېر زیار جوړ کړئ وو او ښې مېوه لرونکي وني یې پکښې ایښي وې. همېشه به د دې باغ په غم کي وو. یو ساعت به یې له اوبو کولو او زېرمي څخه بې غمه نه وو . د دغه باغه به هر کال ور ته یو څه فایده (ګټه) راتله او له دغي لاري به یې خپله ګذاره کوله. لږ موده وروسته دا باغوان مړ سو، باغ یې زوی ته پاته سو. زوی یې په عیش او عشرت پیل وکړ. د لټۍ او بې پروایۍ له امله د باغ غم خواري ځیني پاته سوه. اوبه نه ور رسېدې. نو د باغ وني ورو ورو وچي سوې او باغ له حاصله ولوېد. نا چاره سو باغ او جایداد یې خرڅ کړه.

څه موده یې په هغو پیسو خپله ګذاره وکړه. اخر هغه هم خلاصي سوې او دی په خواري او غریبي اخته سو .

هر یو زوی چي د پلار ملک کاندي اباد
په نامه به د عزت وي هغه یاد
له لټۍ یې که خراب کړ د پلار ملک
په اخر کي به هغه سي خوار برباد

# لېوه او پسه

یوه ورځ یو پسه په یوه چمن کي په څړ بوخت وو چي نابېره یو وږئ لېوه ورته راغئ ، پسه چي لېوه و لیدئ په منډه یې پیل وکړ او لېوه (شرمښ) هم ور پسې و ځغاست. پسه پسله څه ځغستا څخه ستړئ سو او و پوهېدئ چي د لېوه څخه نه سي خلاصېدای. ځکه نو ودرېدئ او مخ یې و لېوه ته راواړاوه او ورته ویې ویل: "زه پوهېږم چي ته ما خورې او پوهېږم چي زه ستا څخه نه سم خلاصېدای. دغه دئ خپل ځان و تا ته په ډېر احترام تسلیموم. مګر زه یوه غوښتنه لرم ، هغه دا چي د مخه تر دې چي زه مړ سم غواړم چي ستا په مخ کي نڅا وکړم او ته اواز راته و کړې او دا کار به ستا په ژوند کي یوه خاطره وي". لېوه په ډېره خوښې د پسه غوښتنه ومنله او په اواز کښلو یې پیل وکړ، پسه په نڅا پیل وکړ. د لېوه اواز د کلي شاوخوا سپیو واورېدئ او په ځغاسته راغله. د سپیو په رارسېدو سره لېوه ځان په خطر کي و لیدئ، و تښتېدئ او پسه یې د خولې ووتئ.

لېوه پدې پېښه ډېر خواشینی سو او و یې ویل: "ما د ځان څخه سازنده جوړ کئ حال دا چي زه باید قصاب وای".

# هر څوک هڅه کوي

د ژوند مانا(معنی) کوښښ کول دي. بې کوښښه ژوند بې ثمره دئ. هر څوک هڅه کوي او هر څوک په یوه کار بوخت دئ. انسان کار کوي، ماشینونه کار کوي. مور او پلار مو ستاسي د ژوندانه د پاره زیار باسي.

هوکې! هر چیري چي کوښښ دئ هلته ژوند دئ، بډایي او مدنیت دئ. هغه څوک چي زیار نه باسي په پرېشاني، نیستي، غم او سپکتیا اخته کیږي.

خپل ټولګي ته وګورئ هر څوک چي زیات کوښښ کوي، پر کار ښه غور کوي، پخپل ټولګي کي ښاغلئ وي، کله چي د ښوونځي څخه راووزي او د کار په دنیا کي پل کښېږدي، هر څومره چه یې زیار کښلئ وي په هغه اندازه به یې ګټه کړئ وي.

په نړۍ کي داسي خلک تېر سوي دي چي خپل ټول ژوند یې د انسانانو د ژوندانه د ښه والي او مختګ د پاره وقف کړئ دئ او تل یې کوښښ کړئ دئ چي د نړۍ د خلکو د پاره کوم ګټه ور کار و کړي او داسي شیان پیدا کړي چي د نړۍ پر مخ باندي د ژوندانه ښه امکانات برابر کړي. اختراعات او کشفیات یې کړي دي، چي دا ټوله د دوی د زیار نتیجه ده.

بې زحمته راحت نـــشته زما وروره
که راحت غواړې زحمت در لره بویه

# نظم

کــه هــزار ځــله تـــقوا پرهېزګاري کړي
ښــه دي نــشته چـــي مدام دل ازاري کړي
که د شپې لمونځونه کړي په ورځ روژه يې
خيـــراتـــونـه هم پـه ياد کښي د باري کړي
هـــم مـــدام پـــه ژړا ژاړي قـــران لولي
عمر ټـول تېـر پــه دعا او پـه زاري کړي
که دا ټوله په ځای راوړي چي مذکور شوه
کور دي خور دئ چي د زړونو خرابي کـړي

(عبدالرحيم شهرت)

# کيسه

يو پاچا د خپلو خلکو سره د يوه بحري سفر د پاره په يوه کښتۍ کي کښېنوست. د خلکو د جملې څخه يو سړی وو چي پخوا يې د کښتۍ سفر نه وو کړئ، د کښتۍ په حرکت يې بدن رېږد واخيست، په ژړا او نارو يې پيل و کړ. پاچا کوښښ وکړ چي دا سړی ارام او غلئ کړي مګر بريالی نه سو. د پاچا زړه يې په تنګ کړ خو په چاره يې نه پوهېده.

په هغه کښتۍ کي يو پوه سړی وو، پاچا ته يې وويل: "که اجازه وکړې زه به يې ارام کړم".

پاچا ورته وويل: "ډېره مهرباني به دي وي ".

د پاچا د اجازې سره سم يوه سړي هغه سړی په درياب کي واچاوه ، ځو غوټې چي يې ورکړې سړي په زاريو پيل وکړ. سړی چي يې د اوبو څخه را پورته کړ ، په يوه ګوښه کي کرارکښېنوست. د پاچا د يوه سړي چل خوښ سو او و يې ويل: " پدې کښي څه حکمت وو"؟

يوه سړي وويل: " دمخه يې د ډوبېدو خوارۍ نه وې ليدلي نو د کښتۍ د سلامتۍ په قدر نه پوهېدئ. د دې مانا دا ده چي د روغتيا په قدر هغه څوک پوهيږي چي يو مصيبت ( خواري) يې ليدلئ وي."

# بسپنه

پښتانه هيڅکله خپل افراد نېستۍ او ناداريۍ ته نه پرېږدي. هر کله چي پر يوه پښتون بده ورځ راسي او نېستي ورته مخه کړي نو د هغه خپلوان او عزيزان را ټوليږي د بسپني په نامه د هغه د پاره نقدي پيسې او نور د اړتيا وړ شيان ور ټولوي او د فقر او مسکينۍ چاره يې په کوي.

هو! پښتنو د معاونت لار ډېره ښه پېژندلې ده او پدې متل کي يې ځای کړې ده چي وايي "د ډيرو لرګی د يوه غوزی."

ددې متل له مخي پښتانه يو د بل سره مادي او معنوي مرستي کوي او پخپلو کي يې د بسپني دود جاري کړئ دئ او د خپل عزيز په بده ورځ نه راضي کيږي.

# نصیحتونه

۱ - خدای تعالی و پېژنئ او په اخلاص یې عبادت وکړئ او امر یې پر ځای کړئ.

۲ - علم او کمال په لاس راوړئ او د علم او فن په لټه کي اوسئ چي بختور سئ.

کسب او کمال زده که چي بادار شې
بې کماله سړی هــر چیري وي خوار

۳ - څه چي مو نه وي زده په پوښتنه یې مه شرمېږئ. ځکه هر څوک چي په زده کړه کي ننګ کوي نا پوهه پاته کیږي.

٤ - د بې کارۍ څخه لیري ګرزئ چي د خوارۍ او بد بختۍ سرچینه ده.

٥ - راست کاري او ریښتیا ویل د ځان لومړۍ وظیفه و ګرزوئ.

٦ - د درواغو څخه ځان ساتئ ځکه که یو وار په درواغجنۍ مشهور شوئ بیا به نو څوک ستاسي په ریښتیا خبره هم باور نه کوي.

۷- د خپل هیواد سره مینه و لرئ او د هیواد د ترقۍ او سعادت د پاره تر ځان او مال تېر اوسئ.

۸- د دوست او دښمن سره مینه کوئ چي د دوستانو مینه در سره زیاته شي او د دښمنانو دښمني در سره کمه شي